UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
http://unama.unmissions.org

## د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړي

## استازی ښاغلي نیکولاس هیسم لنډ ګزارش

*[څرنګه چې وړاندې شوی]*

## نیویارک، ۲۲ جون ۲۰۱۵

***

آغلي رئیس، او د شورا غړو،

ستاسو څخه مننه چې ماته مو دا فرصت میسر کړ چې په نږدې تېر وخت کې په افغانستان کې رامنځته شویو پراختیاو په اړوند د یوناما نظر ستاسو سره شریک کړم.

امنیت شورا ته زما د تېر ګزارش راپدیخوا یو لړ پرمختګونه شوي چې توانېدلي دی افغانستان په درې جلا، خو یو بل سره تړلي ډګرونو کې، د ننګونو سره مخ شي او ورته رسیدګي وکړي: اقتصادي، امنیتي او سیاسي ډګرونو کې. که څه دغه پرمختګ ناچېزه دی خو باید ورته ارزښت ورکړ شي.

اړتیا ده چې تاکید وشي چې افغانستان په ټولو درېو ډګرونو کې د خپل معیارونو ته رسېدګي کې په دوامداره توګه آزمایل کیږي. له ځان څخه راضي کیدلو لپاره چانس نشته، د دغه درېو ډګرونو څخه په هر یو ډګر کې پاتې راتلل، کولای شي د افغانستان د لېرد په پروسه کې د ټولیز بریا لپاره ناوړه پایلې ولري. دا په مطلق ډول سره روښانه ده چې افغانستان به په دوامداره توګه د نړیوالي ټولني ملاتړ، او همدارنګه د دغه شورا مستمر پاملرنې ته اړتیا ولري.

آغلی رئیس،

د اقتصاد کوچني کیدل او ورپسې د نړیوال پوځي ځواکونو وتل د افغانستان حکومت د دوامدارو ننګونو سره مخ کوي چې مالي خلاء ته رسیدګي به نشي کړاي، هغه خلاء چې سرچینې باید راټول کړي او پیسې چې باید مصرف کړي. افغانستان کولای شی چې د منځني کچې څخه زیات عاید راټول کړي. که څه هم افغانستان هڅه کوي چې د سرچینو په کارولو سره د خپل حکومت ژمنې او د هغه د انکشافي لومړیتوبونو ته رسېدګي وکړي. خو د اوسمهال د دوامداره ټیټ اقتصادي ودې سره، موږ باید همدارنګه د غیرقانوني اقتصاد ته د زیات میلان د ګواښ پر ضد، په ځانګړي ډول د مخ پرغوړیدونکي مخدره

توکو قضیې ته هم پام وساتو. افغانستان خپل امنیتي ننګونو ته رسیدګي کوي، خو په عین حال کې په زیاته پیمانه آزمویل کیږي. د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه پرته له شکه په زیاته پیمانه خواره شوي دي ځکه چې دوي په بشپړ ډول امنیتي مسؤلیتونه اخلي. موږ په ټول هېواد کې د زیات شدیدې جګړې شاهدان وو، په شمول د هغو سېمو چې مخکې لدې امن سېمې وې. یوازې پرون، د کندز مهم او ستراتېژیک ولایت ته څېرمو سېمو کې د حکومت امنیتي ځواکونو تر کنټرول لاندې سېمې نوې ننګونو سره مخ شول. او نن ورځ پر پارلمان باندې یو ناکام برید ترسره شو کله چې دوي غوښتل نومول شوی دفاع وزیر باندی بحث پیل کړي.

کله چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه عملیاتي ننګونو سره مخ کیږي، د دوي ژمنتیا د ستاینې وړ دی، دوي د یاغیانو د هڅو په وړاندې له ځانه انعطاف ښکاره کوي تر څو اراضي ونېسي او وساتي.

د افغانستان د شمالي ګاونډیانو او د نورو ځایونو څخه بهرني جنګیالي په ځانګړي ډول ننګوني وړاندي کوي. همدارنګه د شام او عراق اسلامي دولت، چې په افغانستان کې ورته داعش ویل کیږي، د زیات اندېښنې وړ دی او هڅه کوي چې ځان ته سېمې ولکه کړي. دغه مسله په زیاته پیمانه سېمه ییز همکاری ته اړتیا لري تر څو دغه ګډ ګواښ ته رسیدګي وکړي. دا نامتوازن ښکاری چې افغانستان باید د هغو تروریستانو پېټې هم پر اوږو واخلي کوم چې د دوي اصلي زړي او نهایي مقصد د هغه ګاونډ هېوادونه دي. د خپل ګاونډ هېوادونو سره د افغانستان مصمم رسېدګي هڅونکی دی. د افغانستان او پاکستان حکومتونو تر منځ پیاوړی اړیکې په ځانګړي ډول د ارزښت وړ دی، ځکه چې د دوي ګډې ګټې ورځ تر بله پوري ښکاره کیږي.

پدې ډول سره، په سیاسي، اقتصادی او ټولنیز مسلو کې ژور همکاری سېمه ییز ټیکاو او پرمختګ به تریج کړي.

آغلې رئیس،

د جګړې شدت په اړوند لا دمخه وړاندوینه شوي و. په دواړه خواوو کې ستر فرسایش شتون درلود، او د دغه شدت یوه بوګنوونکي مشخصه په ملکي وګړو کې د زیات شمېر تلفات دی، تر اوسمهاله په دغه کال کې ۴۲۱۶ ملکي کسان وژل او یا ژوبل شوي دي. یوازی دوه ورځې مخکې ۱۶ تنه ملکي کسان، چې زیاتره یې ښځې او ماشومان و، هغه مهال ووژل شول چې یو موټر بس پر یو ځای پر ځای شوی په لاس جوړ چاودیدونکي توکي باندې وختی. که دا بوګنونکې دی، خو دا یوه مجزا پېښه نده بلکې یوه نمونه د واقعه ده.

دا ډول پېښې کورنیو ته ستر روحي او ټولنیز ضربه واردوي، په ځانګړي ډول پاتې شوي کونډې ښځې چې اکثراً په یو زیات ناوړه اقتصادي وضعیت کې پاتې کیږی. زیات شمېر نو افغان وګړي هم د جګړې له امله اغیزمن کیږي د ساری په ډول هغه وګړي چې بې ځایه شوي دي. اکثراً بشري مرستې د دوامداره نا امنې له امله د خنډ سره مخ کېږی، او په تاسف سره د بشري مرستو فعالین هم په نښه کیږي.

ملګري ملتونه اغیزمن شویو کسانو ته د بشري مرستو د چمتو کولو کار ته به دوام ورکړي. یوناما د وراني زیان لېدونکو لپاره د مراقبتونو کچې زیاتولو کار ته به دوام ورکړي او د زیاتېدونکو داخلي بې ځایه شویو کسانو لپاره د لنډ مهاله اړتیاو مرستي ورسوي. همدارنګه یوناما، د طالبانو په ګډون، د شخړو خواوو سره تعامل ته دوام ورکړي تر څو د ملکي وګړو د خونېدتوب لپاره پیاوړي تدبېرونه ډاډمن کړي.

آغلې رئیس،

په سیاسي ډګر کې هم څه نا څه پرمختګ شوی دی. تاسو ته زما د تېر ګزارش وروسته، د کابینې ټول غړي تعین شوي دي، که څه هم یو پاتې دی چې باید تایید شي. تر نن سهار پورې ۲۱ ولایتي والیان تعین شوي دي او د نور زیات تعیناتو په اړوند هوکړه ترسره شوې ده.

وروسته له يو اوږد ځنډ څخه، حکومت ژمن شوی دی چې د ټولټاکنو سمون کميسيون په يوه اونۍ کې تعين کړي، او د يوې مياشتې په دننه کې د ټاکنو نېټه روښانه کړي. د ملي شورا د ولسي جرګې کارې موده بايد نن ورځ پای ته ورسېږي، پداسې حال کې چې نوي غړي لا ندي ټاکل شوی. دغه مسله چې د اوسني ولسي جرګې راتلونکي روښانه ندی، د اندېښنې او همدارنګه د بلقوه عامه اختلاف او نارامي لامل شوی. په خوښي سره درې ورځې مخکې ولسمشر غني د يو فرمان په ذريعه د ولسي جرګې د کار موده د ټاکنو د ترسره کولو تر مودې پوری وغځوله.

د سياسي ناوړه وضعيت په شتون کې، افغان نهادونه توانېدلي چې يو بل سره په ګډه کار وکړي او د ملي مسلو د حل لپاره حل لاره ومومدې. ملګري ملتونه تمه لري چې د راتلونکي ټاکنو لپاره نېټه باندې پريکړه وشي او همدارنګه د ټولټاکنو د سمون لپاره ورکړاي شوي ژمنې عملي شي. د دغو ګامونو لپاره اوږده لاره په مخ پرته ده تر څو افغان وګړي ته بيا ډاډ ورکړ شي چې ديموکراتيک نهادونه او پروسې دا ځواک لري چې خپل اړوند ونډه ترسره کړي او د ولس توقع او تمې پوره کړي.

د ملي يوالي حکومت د مشارکت تر ټولو ستوزمن اړخ دا دی چې دوي وتوانېدل اغيزمن تعينات وکړي. پداسې حال کې چې دغه تعينات په زياته پېمانه بشپړ شوي دي او کابينه هم فعاله ده، موږ دا تمه کولای شو چې د حکومت لا زيات اغيزمن اجرات ووينو.

اوس هغه وخت دی چې بايد وګړو ته زيات خدمات وړاندي شي، انتخاباتي وعدې او همدارنګه په لندن کې وکړ شوي ژمنې او همدارنګه د وزيرانو د لومړی ۱۰ ورځې د وعده کړای شوې عمل پلان بشپړ پلې شي. د توکيو د متقابل حسابورکونې کاری چوکاټ په اړوند، د سترو چاراواکو راتلونکې غونډه، چې تمه کېږي د دريو مياشتو څخه لږه موده کې ترسره شي، يو داسې فرصت برابروي چې دواړه، ډونران او هم حکومت، د متقابل ژمنو په اړه رېښتنې پرمختګ ښکاره کړي، چې د حکومتوالي سمونونو ملاتړ وکړي.

أغلي رئېس،

د امنيت شورا د هغه غوښتنې په پام کې نيولو سره چې، عمومي منشي، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعاليتونو، جوړښتونو او ونډې په اړوند يو آزمايښت ترسره کړي، زه په خوښي سره تاسې ته اطلاع درکوم چې اوس موږ د حکومت سره د يو کميسيون د رامنځته کولو په اړوند هوکړې ته رسيدلي يو، چې په هغه کې د حکومت، د نړيوال ډونران ټولنې، يوناما او د ملګرو ملتونو اړوند موسسې، وجهې او پروګرامونه خپل استازی ولري، چې د حکومت او يوناما لخوا په ګډ ډول سره رياست کيږي. د دغه کميسيون کاری لايحه د غړو سره شريک شوی ده چې په لنډه موده کې خپل کار به پيل کړي او موږ تمه لرو چې د دوي راپور، د افغانستان په اړوند د دغه شورا د سپتمبر د مياشتې په ناسته کې، به چمتو وي.

آغلي رئيس،

سوله کولاي د حکومت پر ظرفيت باندې يو ستر مثبت اغيزه ولري چې له امله يي حکومت کولاي شي خپل اقتصادی، امنيتي او سياسي ننګونو ته رسيدګي وکړي.

سوله په اوږ مهال کې يوه هوساينه او تجمل نه بلکې يوه اړتيا ده. تر هغه مهاله چې افغان وګړی يوه داسې لاره نه وي موندلې چې په هغه کې په ګډه سره په همغږی کې ژوند وکړي، د افغانستان سياسي امنيتي وضعيت او د هغه اقتصاد به پاېښت ونلری. د ناکامې په صورت کې هېڅوک به ګټه ونکړي.

که څه هم امنيتي رجحان بوګنونکي دی، او يا ښايي د هغه د پايلو له امله، د شخړې د حل په موخه، د سولې د هڅو لپاره نوي لېوالتيا رامنځته شوی دی.

ما په خپل تېر ګزارش کې د اوضاع د يو ځانګړی ترتيب په اړه خبري وکړ چې کولای شي د سولې د خبرو په پیاوړي کولو کې اغيزمن واقع شي.

په واقعيت کې، د سولې د پروسې لپاره ټول لومړني ترتيبات تيار دي: د تاوتريخوالي څخه ډک اوږد مهاله جګړه، چې دواړه خواوو لپاره ډیر لږ چانس شته چې په پوځي ډول پر بل خوا بريا ترلاسه کړي، او د سولې د پروسې لپاره د مخ پر زياتيدونکي لېوالتيا ورښانه نښې شتون.

په هغه کنفرانس کې چې د مي د مياشتې په پيل کې د قطر د هېواد تر مشرى لاندى جوړ شو د افغانانو يوه ستره برخه د سولې لپاره لېوالتيا بيا تاييد کړل، چې د ډيالوګ له لاري د هغه د بلقوه پرمختګ وياند و. د هغه وروسته په زيات شمېر ځايونو کې ورته ناستې ترسره شوي چې آخرنې يې په اوسلو کې و او ما په هغه کې ګډون کړي و.

دا ډول پيښې دا تاييدوي چې افغانان د دوامدارې شخړې پای غواړي چې زيات زيان وارد کړی دی او د هغه د کميدو لپاره نښې نښاني نه تر سترګو کيږی.

آغلې رئيس،

پداسې حال کې چې حکومت په ښکاره ډول سره خپل تياري ښودلي دی چې د طالبانو سره په نېغه خبرو ته کېني، خو د طالبانو لخوا يو روښانه نښه نه تر سترګو کيږي چې دوي هم د حکومت سره په نېغه خبرو ته چمتو دي.

د يو داسې تعامل څخه پرته د سولې په لور د يو معنا داره پرمختګ امکان شتون نلري، دا هغه ټکی دی چې ما په پرله پسې ډول د طالبانو د استازو سره په خپل خبرو کې ياده کړی ده. په کنفرانس کې اعلاميې د موقف د واضح کولو لپاره ګټه ور دی، خو هېڅ کله هم د سيستماتيک تعامل لپاره يو فارمت نشي کيدای چې د خواوو ځواکمن استازی وکولای شي د دوامداره سولې لپاره خپل منځ کې پر شرايطو، اجنډا او خنډو باندې خبر وکړي. په لنډه توګه بايد وويل شي چې د مذاکره شوي تړون لپاره په نېغه تعامل اړين دی.

په ښه مشرتوب سره، سوله د لاسرسي وړ دی. که څه هم، تشديد شوي جګړه د رغنده مذاکرې لپاره چاپېريال له منځه وړي. څرنګه چې د سولې لپاره غوښتنې ورځ تر بله زياتيږي، په ورته حال کې د هغه کسانو شمېر هم زياتيږي چې پدې باور دې چې سوله نه يوازی ممکنه نده بلکې لېوالتيا هم ورته نشته، نو ځکه بايد پر جګړه باندې تمرکز وشي.

پدې اړوند، دا ډيره مهمه ده چې نړيواله ټولنه په مجموع کې، او د سېمې ګاونډې هېوادونه په ځانګړي توګه، اړوندو خواوو ته په زوره او پرته له شکه يوه ورته پيغام واستوي: د سولې او په نېغه مذاکرې لپاره وخت له همدې شېبې څخه پيل کيږي.

يوناما د حکومت او وسله والو ډلو سره په نېغه تعامل څخه ملاتړ کوي، د هغه د تحقق لپاره هڅه کړی چې آسانتيا چمتو کړي، او د حکومت سره په بشپړ سلا مشوری سره، دا کار ته به دوام ورکوي.

آغلې رئيس،

په پای کې غواړم چې خپله هېله څرګند کړم چې د روژې په دغه مبارکه مياشت کې افغانان وکولای شي سره راټول شي او په سوله کې خپل عبادت ترسره کړي.

ستاسو څخه مننه.

***

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**

For more information, please contact: Spokesperson-UNAMA@un.org

UNAMA online: http://unama.unmissions.org • Facebook • Twitter • Flickr • YouTube